PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلنه واوریده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منه وکړي او له الله نه وډار شي او له سرغړونې څخه یې ځان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:
څوک چې د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کارونه کوي نو الله تعالی دهغه هر کار جوړوي او دهغه د هرې خبرې په بدل کې ورته د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي او مخکیني ګناهونه یې بخښي. (ترغیب)

شهادت   درییم کال، ۴۰ مه ګڼه، پرله پسې ۱۴۰ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د مرغومی ۱۴ مه   د۱۴۳۳ هـ ق د صفر ۱۱ مه   د۲۰۱۲ م د جنوری ۴ مه

ملا عمر پاکستان را ترک کرده است

طالبان در پاکستان تحت فشار قرار داشتند و این فشار منجر شده است که تعدادی از طالبان با دوری جستن از پاکستان، به مذاکرات صلح امریکا روی آورند

کابل، رسانه ها:
وحید مژده کارشناس معروف افغان با افشای موارد مهمی در زمینه مذاکره امریکا و طالبان از تغییرات مهمی در ستراتیژی سیاسی طالبان، خروج رهبر طالبان از پاکستان، تلاش پاکستان برای تعیین جایگزین ملاعمر و توافق طالبان و امریکا برای آتش بس خبر داد.
وحید مژده می گوید که از سال ها پیش طالبان در پاکستان تحت فشار قرار داشتند و این فشار منجر شده است که تعدادی از طالبان با دوری جستن از پاکستان ، به مذاکرات صلح با امریکا روی آورند.
وی افزود: خواست طالبان همواره این بوده است که پاکستان به این گروه به عنوان یک طرف قضیه در معادلات سیاسی و نظامی منطقه بنگرد اما اسلام آباد کمتر به این خواست طالبان توجه کرد.
به گفته مژده، بعد از کشته شدن "اسامه بن لادن" در خاک پاکستان، "ملا عمر" رهبر طالبان به این نتیجه رسید که پاکستان با طالبان معامله ابزاری می کند و به همین خاطر موصوف این کشور را ترک کرده است.
وی افزود: پس از این تحول بود که ملا عمر در داخل دستگاه طالبان و به منظور

بقیه در صفحه ۴

سازمان ملل از تصمیم حکومت افغانستان در مورد کمسیون حقوق بشر این کشور استقبال کرد

کابل، رسانه ها:
ملل متحد از تصمیم حکومت افغانستان و جامعه مدنی در آن کشور مبنی بر انتخاب اعضای مناسب برای کمسیون مستقل حقوق بشر در افغانستان، استقبال کرده است.
بر اساس یک اعلامیه منتشر شده از سوی یوناما یا دفتر معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان، سازمان ملل متحد از تصمیم حکومت افغانستان و جامعه مدنی در آن کشور مبنی بر انتخاب اعضای شایسته و مناسب برای کمسیون مستقل حقوق بشر در افغانستان، و پروسه شفاف انتخاب این اعضا، استقبال می کند.
ماموریت پنج ساله و کمیشنر کمسیون مستقل حقوق بشر افغانستان به تاریخ شانزدهم ماه دسمبر سال گذشته خاتمه یافت.
حکومت افغانستان صلاحیت اصلی انتخاب اعضای کمسیون حقوق بشر را داراست تا استقلال، تمامیت و قانونیت این کمسیون را

بقیه در صفحه ۴

د عینک د مسو کان استخراج په ۱۳۹۲ کې پیلیږي

کابل، پژواک:
په ۱۳۹۲ کال کې به د عینک د مسو کان استخراج پیل او په ۱۳۹۵ کال کې به افغانستان د شاوخوا یو میلیارد ډالرو په ارزښت د مسو صادرات ولري.
دغه څرګندونې د افغانستان د کانونو وزیر وحیدالله شهراني، پژواک خبري اژانس سره په یوه مرکه کې وکړې.
د عینک د مسو کان د استخراج او اکتشاف پروژه په ۱۳۸۷ کال کې د ازاد رقابت له لارې د (ام سي سي) په نوم یوې چینایي کمپنۍ ته ورکړل شوې ده.
د مسو دغه کان، چې په لوګر کې موقعیت لري او ۱۲ میلیونه ټنه مس په کې اټکل

پاتې ۴ مخ

دننګرهار ولایتي دفتر کې د جدي شپږمه وغندل شوه

راپور: عبدالله کامه وال
د جدي پر شپږمه دننګرهار ولایت سلګونو اوسېدونکو د حزب اسلامي په سمه ییز دفتر کې دیوې درنې غونډې په ترڅ کې دشوروی د سرو لښکرو راتګ وغنده.
یاده غونډه دسهار په لس بجو د قران الکریم د مبارکو آیاتو په تلاوت پیل شوه، دغونډې پرانیستونکې وینا په ننګرهار کې دحزب اسلامي ولایتي مشر استاد عبدالعلي وکړه

پاتې ۴ مخ

محمد خلیل

پولیس د ټولنې خدمتګار دی نه بدمعاش

تېره اونۍ بالا باغ ته جوخت د پولیسو د ښوونې او روزنې لویه قومانداني پر لاره تېرېدم، له ښار نه راغلې د سورلیو ټونس موټر د پولیسو د لوی قومانداني لوحې ته څېرمه ودرېد چې سورلۍ ترېنه کوز شي، پدې وخت د پولیسو شین رینجر هم دهغه شاته ودرېد، تر څو چې له ټونس نه سورلۍ کوزېدو نو د رینجر ډرېور بې صبره شو او هارن یې وواهه، لوحې لاندې ولاړ پولیس چې په غاړه کې یې کلاشنکوف هم ځوړند و د هارن په اورېدو په رینجر سترګې ولګېدې تېزه منډه یې واخیستله او سېده ټونس ته ځان ورنږدې کړه، ډرېور ته خر کوس، مرده ګاو، زن طلاق او بې ناموس غونډې ناوړه الفاظ یې استعمال کړل، خو لدېنه مخکې چې پولیس ډرېور ته ورسېږي او د څپېړو باران وربانډې وکړي په منډه وتښتېد او ځان یې ترېنه خلاص کړ. ما چې د پولیس دا ناانصافي او بداخلاقي ولید نو ګوته په غاښ او تعجب کې پرېوتم، په مغزو کې مې دا خبره تاو راتاو شوه چې که د ټولنې خدمتګار داسې بداخلاقه او ظالم شي نو له نورو نه څه ګیله؟ د ټونس ډرېور بالکل ملامت نه و، هغه د عمومي سړک څنډې ته ولاړ و، د قومانداني لاره یې نه وه بنده کړې څکه چې څو متره وروسته ولاړ و، دا چې رینجر د هغه شاته ودرېد او هارن یې ورته وواهه ...

(پاتې دویم مخ)

شاه جي او سردار جي

مطیع الله عابد

درییم مخ

روزنامهٔ دیلی تلگراف از اتحاد طالبان و القاعده علیه نیروهای خارجی در افغانستان خبر داد

The Daily Telegraph

BRITAIN'S BEST-SELLING QUALITY DAILY

لندن:
قوماندانان طالبان اعلام کردند که رهبران بلندپایه القاعده و طالبان افغانستان در نشست‌هاي کم سابقه اي از شورشیان پاکستان خواسته‌اند تا اختلافات خود را کنار بگذارند و حمایت خود را از جنگ علیه نیروهاي امریکایي در افغانستان افزایش دهند.
به گزارش گران افغانستان، به نوشته روزنامه دیلي تلگراف، این نشست‌ها در ماه نومبر و دسمبر گذشته در منطقه قبایلی پاکستان و به درخواست شوراي رهبري طالبان افغانستان بر گزار شده است.
این نشست‌ها نشان مي دهند که شورشیان در افغانستان هر چه بیشتر تلاش دارند تا با تسریع روند خروج نیروهاي امریکایي از افغانستان طي سال ۲۰۱۲ با آخرین توان خود به این نیروها ضربه بزنند. چنین چیزي مي‌تواند نفوذ طالبان را در هر گونه مذاکرات صلحي افزایش دهد.
مولوي سنګین، مولوي اشفق از افغانستان، یحیي اللیبي و عبدالرحمن السعودي از القاعده، حفیظ گل بهادر و مولوي صدیق نور از وزیرستان شمالي و حکیم الله محسود، ولي‌النور رحمان و ملا نظیر از وزیرستان جنوبي به عنوان رهبران القاعده و طالبان و دیگر شورشیان در این نشست ها حضور داشتند.

بقیه در صفحه ۴

شنونکي: طالبان ځکه له امریکا سره پر خبرو غبرګون نه ښیي، چې پرې باوري نه دي

کابل، پژواک:
د سیاسي چارو یو شمېر کارپوهان وایي، چې وسله وال طالبان په قطر کې د دفتر په پرانیستو خوښ دي، خو دا چې له امریکا سره د خبرو اترو پر پروسې ډاډه نه دي، نو له دې امله نه شي کولای خپل رسمي غبرګون څرګند کړي.
په دې وروستیو کې د امریکا او وسله والو طالبانو تر منځ د پټو خبرو اترو او یوې نتیجې ته د رسېدو په اړه راپورونه خپاره شوي، خو ویل کېږي، چې امریکا د دغو خبرو اترو د پرمختګ په موخه د ځینو مهمو طالب بندیانو د خوشي کولو لپاره هم چمتو شوې ده.
بلخوا داسې راپورونه هم شته، چې د همدغو پټو خبرو اترو په پایله کې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر د پرانیستلو هوکړه هم شوې ده، که څه هم د افغانستان حکومت د دغه دفتر له پرانیستلو سره مخالفت نه دی ښودلی، خو د بهرنیو چارو وزارت ویاند جانان موسی زي پرون په یوې خبري غونډه کې و ویل، چې تر اوسه لا دفتر نه دی پرانیستل شوی.

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

سوله د افغانانو ستر ارمان

افغانانو لپاره دا ډېر د خوشالۍ خبره ده چې د دولت مخالفینو په قطر کې خپل دفتر پرانستې. دهېواد ولسمشر ښاغلي کرزي او د سولې عالي شورا له خوا ددغه دفتر د پرانستنې هرکلې هم شوی دی. اوس هېوادوالو دېته د امید سترگې نیولي دي چې دولت، او د دولت د مخالفینو ترمنځ خبرې اترې د اخلاص او ورورگلوۍ په فضاء کې ترسره، او ولس ته ښه زیرې ډالۍ کړي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د اسلام په سپېڅلي دین کې هر څه د روښان لمر په څېر څرگند دي. کله چې خپلمنځي معاملاتو کې د اسلام د مبارک دین پر لارښوونو صحیح عمل وشي او د هر چا حقوقو ته په درنښت وکتل شي نو د جنگ جگړې ټول عوامل پخپله له منځه ځي.

جنگ څه آسماني تندر او آفت نه دی چې پر خلکو وغورځېږي بلکې دا پخپله د انسانانو د ناروا کړنو نتیجه ده چې د جنگ او جگړې په بڼه ښکاره کېږي، مثلاً که دوه وروڼه، دوه گاونډیان او دوه شریکوان پخپلو منځونو کې د یو بل د حقوقو احترام وکړي او د یو بل پر ځان، مال، عزت او آبرو تېرې ونه کړي نو ددوی ترمنځ د جگړې د راپېښېدو ټول امکانات پخپله له منځه ځي، خو که د یو بل پر حقوقو تېرې وکړي او یا هم خپل ځان پوره من او بل څوک پاو وگڼي نو د دواړو ترمنځ د جگړې اور ضرور بلېږي. په افغانستان کې چې د تېرو لسو کلو راهیسې د دولت او مخالفینو ترمنځ د جنگ جگړې کوم اور بل دی او تر اوسه زرگونو افغانانو خپل قیمتي ژوند له لاسه ورکړی ددې تر شا هم یو لوی علت پروت دی.

پکار خو دا و چې له لومړۍ ورځې نه د جنگ جگړې علت له منځه وړل شوې وای او داسې کومه خلا او تشه نه وای پرېښودل شوې چې د وسلې د اوچتولو اړتیا مخې ته راغلې وای او د وسلو په زور د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره پوره لس کاله د جگړې میدان گرم شوی وای. هر څه چې وشول دهغه نتیجه زموږ په وړاندې ده، ډېر ځاني او مالي تلفات مو ورکړه، هېواد مو وران ویجاړ شو او ولس مو د غم او ویر په ټغر کیناست.

دا چې اوس د دولت وسلوالو مخالفینو په قطر کې د خبرو اترو او روغې جوړې په موخه دفتر پرانستې دا نو ددې خبرې غمازي کوي چې د افغانستان له فضا نه د تورو وریځو لمنه په ټولېدو، او د امن او سلامتیا روښانه لمر په ښکاره کېدو ده.

دواړو لورو ته پکار دي چې خپلې خبرې اترې په ډېر احتیاط او زیرکتیا پرمخ بوځي، د یو بل د لاندې کولو او یا هم د زیاتو امتیازاتو دترلاسه کولو ناروا هڅې ونه کړي. خپل مذاکرات دې یواځې او یواځې په اسلامي او افغاني روحیه پرمخ بوځي، یواځې د خپل هېواد او ولس گټې دې په نظر کې ونیسي، د نورو هېوادو فرمایشونه دې بالکل له خپلو مغزو وباسي. خپلې ټولې هلې ځلې او وفاداري .دې د خپل هېواد د خېر ښېگڼې او پرمختگ لپاره وقف کړي، دواړه لورې دې خپله ټوله پاملرنه د خپلې خاورې او ولس لپاره داسې ځانگړې کړي لکه چې یو پلار او مور د خپل ناروغ اولاد د روغتیا او درملنې لپاره ځانگړې کړې وي.

افغانستان د افغانانو ټاټوبې دی نه د بل چا، ددې د خدمت، ساتنه او دفاع مسؤولیت زموږ پر غاړه دی، که موږ یې خپلمنځي جگړو له لارې خپل مادي او معنوي ځواک ضائع کوو او پخپل لاس د خپلې خاورې او عقیدې د حریمونو دفاع کمزورې کوو نو له پردیو نه دا تمه کول چې هغوی به زموږ هېواد ته سوله راولي له حماقت پرته بل څه نشي کېدلی، ځینې داسې داخلي کړۍ هم شته چې له مخالفینو سره د سولې له خبرو اترو سره کلک مخالفت ښکاره کوي او بشپړې هلې ځلې کوي چې پخپلو ناروا تبلیغاتو د سولې خبرو اترو مخه ډب کړي او په دې توگه په افغانستان کې د خپلو گټو ناروا تجارت پرمخ بوځي، پر بیت المال گېډه واچوي او د افغانانو سرمایه د پخوا په څېر ولوټي، دغو عناصرو پخپل ټول ژوند کې چېرته هم د ایمانداري او دیانتداري ثبوت نه دی وړاندې کړې، پرون هم له هېواد او ولس سره د خیانت کارونه کول نن هم کوي، خو که واقعیت ته ځیر شوو نو دوی په ملت کې هېڅ ډول محبوبیت او جرړې نه لري، تل د نورو په اتکاء او مرسته پر افغانانو خپل ځانونه مسلط کړي دي او د سولې پر ځای پر جنگ خوښ دي. نو ځکه د افغانستان مظلوم ولس جدي غوښتنه داده چې د مذاکراتو په دې بهیر کې دې امریکا او د ناټو غړي هېوادونه هم په افغانستان کې د یو واقعي سولې او امن د ټینگښت لپاره خپل بشري او انساني مسؤولیت وپېژني او د یوې خاصې ډلې د حمایت پر ځای دې د گردو افغانانو مشکلات او کړاوونو ته پاملرنه وکړي.

موږ په یقین سره ویلې شوو چې که چېرته د امریکا په شمول ټول ذیدخل هېوادونه په افغانستان کې د خاصو ډلو پلو د مرستې پرځای د افغانستان له ولس سره د دوستانه اړیکې ټینگې کړي نو د روانې جگړې د ختمېدو ترڅنگ به ددوی روا گټې هم تأمین شي.

پولیس د ټولنې خدمتگار دی نه بدمعاش

(د لومړي مخ پاتې برخه)

...دا د رینجر د ډریور خپله غلطي وه، خو متأسفانه په افغانستان کې د چا غلطي ته نه، بلکې مال دولت او منصب ته کتل کېږي، هر مالدار، دولت مند او د غټې څوکۍ خاوند واجب الاحترام دی، دهغه هره گناه او غلطي مباح گڼل کېږي، دهغوی وهل، ټکول او ستغې سپورې مرهم او دوا ده، له هغوی سره استدلال کول گستاخي او خبره یې نه منل گناه ده. کمزورې او لاس لاندې خلک باید همیشه دهغوی په وړاندې لاس په نامه ولاړ وي او هرې خبرې ته یې په ډېر ادب او احترام لبیک ووایي. ډېر وسله په لاس مجهز پولیس خپل ځان په هوا کې ویني او فکر کوي چې په هر چا برلاسی دی، نه څوک دهغه دځپېړو مخه نیولې شي او نه هم دهغه د بدو ردو او سپورو ستغو په وړاندې عکس العمل ښودلی شي، ځکه چې له پولیس سره جنگ له قانون سره د جنگ معنی لري چې سزا یې ډېره لویه ده، په داسې حال کې چې قانون د ټولو لپاره دی او پولیس ته ځکه د ټولنې د خدمتگار لقب ورکول شوی چې هغه د قانون د حفاظت دنده لري، هېچاته باید د قانون د ماتولو اجازه ورنکړي، د ولس د ځان، مال، عزت او آبرو حفاظت وکړي او چېرته چې پولیس وي هلته وگړي د امنیت او مصؤنیت احساس وکړي، خو له بده مرغه په افغانستان کې ډېری پولیس ددې پرځای چې د قانون حفاظت وکړي او د ټولنې واقعي خدمتگار جوړ شي پخپله قانون تر پښو لاندې کوي، په معمولي خبره خلکو ته رقیقې کنځلې کوي، لغتو او سوکانو لاندې اچوي او آن د کلاشینکوف په کنداغو یې وهي. حال دا چې قانون پولیس ته، نه د کنځلو حق ورکړي او نه هم د وهلو ډبولو اوسپکولو، گنهگار ته د سزا ورکولو حق عدالت ته ورکول شوې چې له تحقیق او څېړنې وروسته لازمه سزا ورته ورکړي، دا چې پولیس له تحقیق نه وړاندې څوک وهي او پر عزت یې لوبې کوي دا نو ښکاره پر قانون ملنډې وهل دي، که پخپله د ټولنې خدمتگار او د قانون محافظ داسې ناروا کړنې ترسره کوي نو قانون به څنگه او پر چا تطبیقېږي؟ !

پولیس ته چې د ټولنې خدمتگار لقب ورکول شوې دا باید د عمل په ډگر کې ثابت کړې او ولس محسوس کړي چې پولیس واقعاً د ټولنې خدمتگار او د قانون محافظ دی. د پولیس او ولس ترمنځ اعتماد او ښې اړیکې خورا ضروري دي، ددوی ترمنځ باید بشپړ همکاري او تعاون موجود وي، جرائم هله قابو کېدلې شي چې د ولس او پولیس ترمنځ بشپړ باور موجود وي او پخپلو کې همدرد او زړه سواندې وي.

له پولیسانو څخه د ولس غوښتنه او هیله داده چې خپل ایماني او افغاني مسؤولیت په صحیح توگه ترسره کړي او د خپلو هېوادوالو عزت او آبرو ته په درنښت وگوري، همکاري ورسره وکړي او دعایې واخلي ځکه چې دوی ته د ټولنې د خدمتگار اوچت لقب ورکول شوې او ددې اوچت لقب حق هله ادا کېږي چې چاته د سپورو ستغو ویلو پر ځای په نرمه لهجه د قانون په چوکاټ کې منطقي او مدللې خبرې وشي که نه نو د ټوپک سالارانو په څېر به پولیس هم د ټولنې د خدمتگار پرځای د ټولنې د بدمعاش لقب وگټي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د افغانستان په هملند کې د کوکنارو پر ضد عملیات

نیویارک ټایمز:

نیویارک ټایمز د افغانستان په اړه په یوه مقاله کې لیکي، څلور کاله مخکې اول بریتانوي عسکرو او بیا د امریکا سمندري ځواکونو د هلمند دریاب پر غاړو پرتو سیمو کې پراخ پوځي عملیات پیل کړل او د طالبانو د مقاومت ملا یې ماته کړه.

په عین حال کې د بزگرو لپاره د کوکنارو پر ځای د نورو بوټو د کرلو په گټو د معلوماتو ورکولو هڅې پیل شوې؛ څو د کوکنارو تولید کم شي.

اوس د هلمند دریاب په شاوخوا کې د نادعلي، مارجې او نورو سیمو زیات کروندگر غنم او پنبه کري. خو د هغو سیمو وضعیت د اندېښنې وړ بلل کېږي، چې د هلمند دریاب له اوبو څخه بې برخې دي.

په سیمه کې له کروندگرو، افغان او بهرنیو چارو سره د مرکو پر اساس ویل کېږي، چې هغه غریب کروندگر چې مخکې به یې په کلیو کې کوکنار کرل، اوس دښتو ته وتلي دي او پراخې دښتې یې د کوکنارو په سترو کروندو بدلې کړې دي.

طالبان هم د ناټو له عملیاتو څخه د پټېدو لپاره دښتو ته وتلي دي او په دې ډول د کوکنارو د کروندگرو ملاتړ کوي. په تېرو څو فصلونو کې دغو کروندگرو، چې د پوځ د حضور له ساحې څخه بهر دي، د کوکنارو د کرلو د مخنیوي لپاره د امریکا او بریتانیې د ځواکونو د عملیاتو لاس ته راوړنې ضعیفې کړې دي.

په عین حال کې اندېښنې مخ په زیاتېدو دي، چې له سیمې څخه د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته به په دې سیمو کې څه کیږي.

کرسچن ساینس مونیټور:

د کرسچن ساینس مونیټور خپرونې په افغانستان کې د امریکایي ژورنالیست (بن ارنولډي) مقاله خپره کړې ده، چې په افغانستان کې د هغه د خاطراتو په اړه ده.

دغه ژورنالیست لیکي، په ۲۰۱۰ کال کې چې جمهور ریس بارک اوباما افغانستان ته د زیاتو عسکرو د زیاتېدو اعلان وکړ؛ زه په افغانستان کې وم.

ولسمشر اوباما ژمنه وکړه، چې د ځواکونو د ایستلو نیټه به هم اعلانوي. په کابل کې چارواکو ویل، چې ولسشمر اوباما غوښتل، په دې ډول جمهور ریس حامد کرزی د جدي حکومتدارۍ لپاره بیدار کړي او ورته ووایي، چې امریکا به تل په دې هېواد کې نه وي.

ژورنالیست (بن) په خپله دې مقاله کې چې کرسچن ساینس مانیټور خپره کړې، زیاتوي، دا نیټه له کابل څخه دباندې د طالبانو او هم د امریکاییانو لپاره اهمیت درلود.

کرسچن ساینس مونیټور لیکي، طالبانو د سولې له پروسې سره ډېره دلچسپي نه ده څرگنده کړې او له ځان سره یې غالباً داسې محاسبه کړې ده، چې تر ۲۰۱۴ کال پورې صبر وکړي او وگوري، چې امریکایان څه وخت له افغانستان څخه د وتلو اعلان کوي.

په عین حال کې د افغانستان د جگړې پای ته رسولو مسالې خپل زور بایللی، ځکه غالباً داسې باور موجود دی، چې دا جنگ په هرحال کې پای ته رسیدونکی دی.

کرسچن ساینس مانیټور لیکي، په دې ډول افغانستان د ارواح گانو د جگړې په میدان بدل شوی دی. له بن بست سره دا مخامخ بحرانه له تشدد سره پر مخ ځي. یوازې تیر کال څلور سوه امریکایي عسکر په افغانستان کې وژل شوي دي.

د یوه بریالي ښوونکي اوصاف او دنده

محمد نسیم "نعیم زی"

دا یو څرګند حقیقت دی او هر څوک به راسره ومني چې یو ښه لایق اخلاقي ښوونکی د یوې ټولنې د مشال (څراغ) حیثیت لري. په هره ټولنه کې رښتونی ښوونکی خاص او ځانګړی مقام او حیثیت لري، هر څوک دده لوړ مقام ته په درنه ستر ګه ګوري او احترام یې کوي.

د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایي: زه ښوونکی (معلم) رالیږل شوي یم څو لار ورکي له کږو لارو څخه راوګرزوم او سمه نېغه لاره وروښایم. کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ښوونکي په مقام ویاړي نو ښکاره خبره ده چې دا مقام د قدر وړ مقام دی. ښوونکي دي چې د هرې ټولنې تنکي نسل روزي، هغه د پوهې او علم په ښکلی قیمتي ګاڼه سمبالوي او د خپلې ټولنې او هېواد د ښه چوپړ او خدمت لپاره یې ټولنې ته وړاندې کوي. دا ښوونکي دي چې ددوی د زیار، کوښښ، ښه پوهې، ښه ښوونې او هلو ځلو له برکته نن د نړۍ په هره ټولنه کې زیات شمېر مجرب ډاکټران، انجنیران، سیاستوال، دیني علماء، پروفیسوران او تخنیکران شتون لري چې د نړۍ په مخ انسانانو ته یې هر اړخیزې آسانتیاوې برابرې کړې دي. ښوونکی او استاذان د یوې ټولنې معنوي پانګه تشکیلوي، ددوی مثبت نقش په هره ټولنه کې ځلاند او څرګند دی. ددوی د لوړ مقام درنښت نه یوازې په اوسنی زمانه کې بلکې د ډېرې پخوا زمانې څخه را په دېخوا شوی او په راتلونکی زمانه کې به یې هم درناوی او درنښت کېږي. کومې ټولنې چې د ښوونکی له لوړ مقام څخه بې برخې او یا کمتون لري هغه ټولنې له هرې خوا وروسته پاتې، د جهل او ناپوهۍ سره پخلا او د ډول ډول ناخوالو، ستونزو، مشکلاتو او نیمګړتیاؤ سره په ټکر کې دي. په دوی کې تل د نفاق، حسد، جګړو او وژنو اور بل وي، د ناپوهی او جهل په اور کې سوځي، خو ښوونکي او استاذان دی چې ددوی د نه ستړې‌دونکو هلو ځلو او ښه لوروني په وسیله د پوهې او علم څخه لیرې پرتې ټولنې د پوهې او علم په ګاڼه سمبالوي او هغوی ته یو نوی خوشحاله د ورورولی، یووالي، مینې، محبت ژوند ورپه برخه کوي. هغه د جهل او ناپوهی له تورو تیارو څخه رڼا ته راباسي، د ژوند په اصلي مفهوم او معنی یې پوهوي.

ښوونکی دی چې د انسانانو په اخلاقي او علمي جوړونه کې مهم رول لوبوي، له تش په نوم یو جاهل انسان څخه یو شریف، معزز انسان جوړ کړي نو ځکه هر عاقل انسان د ښوونکي د مقام درناوی کوي. کومه ټولنه چې پخپله غبږ پوه، زړه سواند، پیاوړی، لایق، متدین له تعصب څخه پاک، ښایسته او بااخلاقه ښوونکی لري د زمانې په هر دور کې یې په ډېره ښه توګه په ډېره اسانتیا سره خپلې ټولنې ته لایق، په دین مین، ټولنپال او هېوادپال زده کوونکي وړاندې کړي او خپل پوهنځیونه او تعلیمي مرکزونه یې فعال ساتلي د ټولنې او هېواد بچیان یې د کمال او جمال په نعمت ښکلي کړي دي.

خو دا هم باید ومنو چې که له یوې خوا زړه سواند خواخوږي، دین پال او وطن دوست بااخلاقه ښوونکي د هېواد او هرې ټولنې یوه با ارزښته معنوي پانګه ده او ټولنې ته بااخلاقه او ښآیسته ګلان او مالیاران وړاندې کوي خو له بله پلوه په ټولنو کې بې لارې (ګمراه)، بدخویه، د نورو تر اغیز لاندې پلورل شوي، ایله ګرد او بې باکه ښوونکی هم شتون لري چې د نوی نسل په بې لارې کولو کې مهم رول لوبولې او لوبوي یې. الله پاک دې زموږ اسلامي ټولنه له داسې بدبختو بې لارې ښوونکو څخه وساتي.

د ښوونکو سره ښایي په اسلامي ټولنه او هېواد کې په اسلامي غوره اخلاقو ځانونه ښکلي او ښایسته کړي. د مسلکي پوهې په څنګ کې په نورو عمومي اسلامي او ټولنیزو مسائلو کې هم پوره پوهه او معلومات ولري ځکه ښوونکی د یوې ټولنې د تنویر، پرمختګ، سوکالی، ریښتیا، خوشحالی، ورورولي او یووالي په لار کې له هر چانه زیات رول لوبولای شي.

ښوونکی نه یوازې د زده کوونکو په علمي زده کړه او پوهه کې رول لري بلکې دهغوی په ښه اخلاقو، خویونو، راشه درشه، د چاپېریال او ټولنې سره د ښه سلوک، چلند، ښه کرکتر او ښه شخصیت په جوړولو کې له هر چا څخه اوچت لاس او اوچته ونډه لري نو له دې کبله دې ښایي هر ښوونکی په لاندې ځانګړتیاو او اوصافو سره ښکلي وي:

پاتې ۴ مخ

شاه جي او سردار جي

مطیع الله عابد

شاه جي: واخلئ واخلئ سړک ته قیر واخلئ، خوړو ته کهیر واخلئ، چت ته شهتیر واخلئ، کابینې ته وزیر واخلئ، ضیعف صدراعظم، برادر کبیر واخلئ او جهاد ته کشمیر واخلئ.

سردارجي: خلمو ته بورسونه واخلئ، جینکو ته سیریالونه واخلئ، ګرم فلمونه واخلئ، پارلیمان ته دیوالونه واخلئ مرض ته علاجونه او اوبو ته بندونه واخلئ.

شاه جي: وه هلکه سردار جي، دا ته دلته پښتونستان چوک کې څه کوي. دا خو زما علاقه ده. دلته خو به یوازې زه سودا خرڅوم. څه لاړ شه، دابېنجاره توب دې چرته بمبې کې کوه. دا خلک د هندو د لاس نه څه نه اخلي.

سردار جي: عجبې خبرې کوي. هم ورته پښتونستان وایې او هم پرې دعوا کوې. ستا دوکان لا جوړ هم نه وه چې ما دلته د امرتسر مسالې او د جالندر پتاسې خرڅولې. ته لا پیدا هم نه وې چې ما کابلي والا نه میوه او زابلي والا نه پسته اخیستله. دلته خو خلک ماته لاله جي وایي، زما د لاس دوا اخلي او ما نه خاما اخلي.

شاه جي: دا لاله توب دې هغه وخت چرته وه چې په امو سور سیلاب راتیرېدو. هغه وخت چرته وې چې د انقلاب په نوم عذاب راوریدو. کابلیان د کابل نه او زابلیان د زابل نه زما درشل ته راغلي وو. هم دا زه ووم چې ما ورته د اسلامي ورورولی لاس ورکړو او د همسا یه توب اخلاص ورکړو. زه ورسره د رحمان رشته لرم او ته ورسره د بهګوان ډرامه کوې. ته خو د دوي دښمن سره ولاړ وې. زه خو یې غبرګوني ورور یم.

سردار جي: که ته یې غبرګوني ورور یې خو زه یې خوږ دوست. ته باید پوه شې چې ورور د خدای لخوا نه په برخه رسیږي او دوست انسان ځانته خپله پیدا کوي. نو که ما چرې سخت وخت که د دوستی لاس نه وي ورکړی نو بخښنه غواړم، خو خپل لستوني کې مې ورته ماران هم نه دي ساتلي. که د جهاد ملګری یې نه ووم خو د شر او فساد اور ته مې هم لمن نه ده وهلې. ما هم افغانان په خپل کور پاللي خو په چا مې خرڅ کړي نه دي.

شاه جي: زه خبر یم ستا د غرض د دوستی او د مطلب د یاری نه. دوي ته پښتونستان غواړې او پخپله خاوره کشمیری انسان نه منې. دوي ته روغتونونه جوړوې او خپل ولس دې په سړکونو لوغړیږي.. مه کوه داسې چې د افغان په اوږه ټوپک ږدې او بلوچستان وولې. مه کوه دا د کارګل جنګ دیوګل ته مه راولمه. زما په دښمنی کې دومره لیرې مه څه چې سبا ته هندو سترې وي او خدای ناراضه.

سردار جي: دا متل خو په تا ډېر سم برابریږي. زما دښمني به دومره مضره نه وي. څومره چې ستا دوستي مضره ده. نن راشه په کابل کې وګوره چې زما د فلمونه شور زیات دی که ستا د احسانونو زور. زما د ډرامو شوقیان ډېر دې که ستا په ضد راپورته شوي مظاهرچیان. راشه کابل کې وګوره چې بې دینه هندو پکې ډېر مقدم دي که دینداره پاکستانی

شاه جي: دا هم ستا د روپو شمال ته ناستو یارانو کمال دی. چې اول یې د روس نه اخیستې بیا یې ما نه واخیستې، بیا ایران او اوس ستا لاس ته ناست دي. محرم یې مجرم او دوست یې دښمن کړیدی. زما د دسترخوان احسان یې هیر کړی او ستا بهګوان ته غبرګ لاسونه ولاړ دي. زما د مالګې خوند یې هیر کړیدی او ستا د پان خوند یې تیر کړیدی. همدې خلکو زما حمید ګل ته جنرالي او ضیاالحق ته اتلولي ورکوله. نور خو لا نور د دې ملک باچا زما وطن کې اباد شوې او ښاد شویدی خو نن ستا په کور کې ماته ګوته نیسي.

سردار جي: دې خلکو ستا مالګه خوړلې خوستا دال یې نه دي خوړلي. ځکه چې ستا دال چې چا خوړلي هغوي تر ننه مخونه پټ ګرځوي. ستا د یوې مالګې د قرض دپاره دوي د سره سیلاب مخې ته ودریدل او ستا پینځه اوبه یې خیرنې نه کړې. سرونه یې داو کړي او ستا د اسلام قلعه یې خوندي کړې. خو افسوس چې د دوي ریشخور دې وران کړو خو خپل لاهور دې هم اباد نه کړو. د کابل باچا زما د شیملې میلمه وه خو تا ورته شمله کې بارود وتوميل. ډاکټر دې په انجنیر وواه، انجینر دې په ملا او ملا دې په بلا. تا غوښتل چې هم ثواب وګټې او هم خرما. خو نن ثواب درنه اوبامه ګټلی او خرما د خورما د خاوند سره لاړه.

شاه جي: دا ټولې ستا خیالي خبرې دي. نن هم لکونه افغانان په ښارونواو کمپونو پالم. د وزیرانو کورونه او د ریسانو کاروبارونه ساتم. ته که ډېر هم زور ووهې خو همدې ټولسو کې به پاتې یې. ما نه پرته یې شل کولی نه شې. که ډېر هم د شمال بادونه راولې خو شمشاد خپلولی نه شې. زما خیبر ورسره ترلی، ما نه یې بیلولی نشې. نن دی که سبا دې دا ملک د زرغون شاه دی. تورخم، شاه سلیم، باجوړ او چمن زما دی.

سردار جي: ګوره که زما منې نو دا میم زرما ټوله زما مه ګوه. هغه د اقبال لاهوري خبره یاده کړه چې ویلي وو « دا ملک د افغان د ټولو زړه دی، که زړه ناقلاره وي نو یو به هم بې غمه خوب ونکړي» نو راځه چې دوي خپل خوشال او رحمان ته خوشې کړو او دا بهګوان یې د مخه لرې کړو چې ایمان یې په قلار شي. ته هم کر د ګلو وکړه چې سیمه دې ګلزار شي.

شاه جي: لاله جي ! دا خو دې ډېره ګل خبره وکړه. زه چې د خپل پنجاب نه ستا پنجاب ته لاره خلاصوم نو ولې د لر او بر پښتون ترمنځ توره کرښه راکاږم. چې زما هنرمند ستا په خاوره د امن سندرې وایي نو ګلزار عالم د سید عالم نه ولې بیلوم. دې تورې کرښې زما قسمت هم تور کړیدی او ستا په نیت یې شګمن کړی یم. راځه چې د افغانستان دپاره د ښو ګاونډیو مثال شو. راځه چې دې ورکو خلکو ته د لارې مشال شو. ته ورته د بنارس نه شال راوړه، زه به ورته د اوښکو دپاره دسمال راوړم. که دا وطن اباد وي او دا افغان ښاد وي نو هم به ستا دوکان چالان وي او هم به زما کورګی ودان وي.

سردار جي: ټیک ده شاه جي ټیک ده راځه چې دواړه ورنه لاړ شو او بیا ورته د سوغاتونو سره راشو. ته ورته واسکټونه بند کړه اود پولې پاټکونه بند کړه. خان اوبه کړه او مړ دا اور کړه. خان اوړه کړه او دا اوړی موړ کړه. زه به دوا شم او هر زخم به یې ټکور کړم. زه به ختمه شم او جوړ به دا کور کړم.

شاه جي: راځه لاله جي راځه، خپله ټوکرې دې را واخله زه به هم خپله کراچۍ سمبال کړم. تربله وخته مو په مخه ښه. رب رکها

سردارجي: ست سیریه اکال

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پیښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(درې دیرشمه برخه)

س۵۳۸: د ازهر پوهنتون لومړی شیخ (رئیس) څوک و؟

ځ: محمد بن جمال الدین خرشي د ازهر د پوهنتون لومړی رئیس و او په ۱۱۰۱هـ کال کې وفات شوی دی.

س۵۳۹: د حیواناتو د تجربې د علم لومړی مؤسس څوک و؟

ځ: مسلمان مشهور لیکوال (جاحظ) د حیواناتو د تجربیي علم لومړی مؤسس و.

س۵۴۰: چا لومړی د عملیاتو قیاسي علم په کار وا چا وه؟

ځ: جاحظ لومړی سړی و چې دا کار یې و کړ، هغه به د حیواناتو ځیتي شکولي او داخلي مختلفي عضوي به یې یو بل سره مقایسه کولې.

س۵۴۱: د جاحظ نه وروسته د حیواناتو د علم لومړی استاذ څوک و؟

ځ: دمیري د (حیاة الحیوان الکبری) کتاب لیکوال د جاحظ نه وروسته د حیواناتو د علومو لومړی استاذ و.

س۵۴۲: چا لومړی هندي عددونه ۱-۲-۳ عربو ته راوړل؟

ځ: خوارزمي لومړی سړی و چې هندي عددونه ۱-۲-۳ یې عربو ته را نقل کړل، او عربو مخکې له دې نه د عربي اصلي عددونه چې ۱-۲-۳ و کارول، چې وروسته انګلیسي ته یوړل شو او المغرب نه پرته نورو عربو د اوږدې مودې لپاره استعمال نه کړل.

س۵۴۳: چا لومړی د لمر نه د مخکې د تاویدو سبب د شپو او ورځو او مختلفو فصلونو پرله پسې والی و ښوود؟

ځ: ابن الشاعر دمشقي، د دمشق د جامع جومات مؤذن لومړی سړی و چې دا خبره یې کړې ده.

س۵۴۴: چا لومړی په مرضونو کې د وراثت د اثر په هکله خبره کړې ده؟

ځ: رازي لومړی ډاکتر و چې دا خبره یې کړې ده.

س۵۴۵: چا لومړی د زراعت او نباتاتو علم تاسیس کړی؟

ځ: ابو حنیفه دینوري، ابن العوام، ابن وحشیه او ابن سینا لومړي خلک وو چې د نباتاتو او زراعت د علومو د نوښت ویاړ یې ګټلی دی.

س۵۴۶: چا لومړی د هوا فشار کشف کړی؟

ځ: مسلمانو علماو د اروپایانو د ترقۍ نه وړاندې د هوا فشار کشف کړی و، زمونږ علماوو ویلي: د یو جسم وزن په هوا کې د هغه د حقیقي وزن نه کمیږي، او د (ارشمیدس) د قاعدې له مخې، هوا د مایعاتو په څیر د پورته کولو یو قوه لري، او د یو جسم وزن چې سطحې ته نږدې وي، او په یوه معلومه ارتفاع کې د هغه د پاسه د هوا د ارتفاع په تناسب فرق کوي.

س۵۴۷: چا لومړی د چاپېریال او په ژوندیو کائناتو د چابریال د تاثیر په هکله لیکنه کړې ده؟

ځ: عبد الحمن بن خلدون د (العبر ا دیوان المبتدأ و الخبر في أیام العرب و العجم و البربر و من عاصرهم من ذوي السلطان الأکبر) خاوند.

س۵۴۸: چا لومړی سیرت النبي روایت کړی؟

ځ: عروه بن زبیر بن عوام رضي الله عنه لومړی شخص و چې سیرت النبي یې روایت کړی دی.

س۵۴۹: د خلافت پر مهال د عمر بن عبد العزیز لومړی خطبه کومه وه؟

ځ: عمرو بن مهاجر او نور وایي: کله چې عمر بن عبدالعزیز خلیفه شو، خلکو ته ودریدو حمد او ثنا یې و ویله، بیا یې و ویل: ای خلکو ! د قرآن نه وروسته بل کتاب او د محمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته بل نبي نشته، خبردار اوسی زه ویونکی نه بلکې عملي کوونکی یم، جوړونکی نه بلکې متابعت کوونکی یم، او په تاسو کې له هیڅ چانه ښه نه یم، مګر په تاسو کې د درونډ بار خاوند یم، او د ظالم امام نه تښتیدلی سړی ظالم نه دی، خبردار ! څوک چې د الله نا فرماني کوي د هغې اطاعت نه شته.

س۵۵۰: چا لومړی د کتابونو په فهرست کې لیکنه کړې؟

ځ: ابو الفرج محمد بن اسحاق بن ندیم عباس، په ۳۷۸هـ کال کې مړ شوی، لومړی سړی و چې په دې علم کې یې لیکنه کړې، او د هغه کتاب (الفهرست) د مصادرو په علم کې لومړی کتاب دی.

س۵۵۱: چا لومړی د اصول فقه متفرقه موضوعات سره یو ځای کړل؟

ځ: ابو یوسف د امام ابو حنیفه ملګری لومړی سړی و چې دا کار یې و کړ.

س۵۵۲: چا لومړی بارود کشف کړي؟

ځ: ابراهیم وقفي وایي: مسلمان علماء لومړي خلک دي چې بارود یې کشف کړي دي.

س۵۵۳: کومه نړۍ ډېر سره زر تولیدوي ؟

ځ: اسلامي نړۍ لومړۍ نړۍ ده چې په زیاته اندازه سره زر تولیدوي.

س۵۵۴: لومړۍ نړۍ چې ډېر سپین زر تولیدوي کومه نړۍ ده؟

ځ: اسلامي نړۍ لومړۍ نړۍ ده چې په زیاته اندازه سپین زر تولیدوي.

س۵۵۵: لومړۍ نړۍ چې په اوس وخت کې ډېره اوسپنه تولیدوي کومه نړۍ ده؟

ځ: اسلامي نړۍ لومړۍ نړۍ ده چې په اوس وخت کې په زیاته اندازه اوسپنه تولیدوي.

س۵۵۶: کومه نړۍ د پټرولو په تولید کې تر ټولو مخکې ده؟

ځ: اسلامي نړۍ.

(نور بیا)

د یوه بریالي ښوونکي اوصاف...

۱- د غوره اسلامي اخلاقو لرونکی وي. ۲- مسلکي وړتیا او پوهه ولري. ۳- د عمومي پوهې او ښې تجربې لرونکی وي. ۴- د میتود درسي پوهه او د درسي میتود سره د زده کوونکي په پوهولو او خوشحال ساتلو کې زیار وباسي. ۵- د مسلکي پوهې په څنګ کې اضافي، اسلامي، آفاقي او ټولنیز معلومات او پوهه هم ولري. ۶- د درسي میتود او د اصولو سره سم زده کوونکو ته پداسې خوږه ژبه او جذابه وینا سره درس ورکړي چې د زده کوونکو پاملرنه د ځان خواته راواړوي او هره جمله د زده کوونکي په ذهن او حافظه کې ځای ونیسي. ۷- ښوونکی د قهر او غصې پر ځای ډېر حلیم، نرم مزاجه او خوش خویه وي. ۸- ښوونکی د زده کوونکو په پوهولو کې ډېر حریص وي. ۹- خپل وخت ته قیمت او ارزښت ورکړي، خپل تدریسي وخت په ټوکو ټکالو او بې ځایه کیسو تېر نه کړي. ۱۰- د پلان او پروګرام سره سم ورځنی درسونه په مخ بوزي او د تېرې ورځې د لوست په برخه کې له زده کوونکو څخه پوښتنه وشي. ۱۱- هره ورځ زده کوونکو ته کورني دنده وسپارل شي او هغه بیا په سبا له نظره تېره او وګوري. ۱۲- ښوونکی د زده کوونکو د زده کړې په څنګ کې دنده لري چې خپل زده کوونکی له هره اړخه کنترول او د څارنې لاندې ونیسي. ددوی په نظم دسپلین کې د ښوونځي له اداري سره پوره مرستندوی واوسي او د ورځنی لوست په څنګ کې افاقي اخلاقي زده کړه هم ورکړي څو زده کوونکی په غوره اخلاقو ښکلي او په راتلونکي کې د ټولنې ښکلي چوپړوال او خادمان وګرځي.

دا د یو بااحساسه، دین پال، وطن دوست، بریالي ښوونکي، اسلامي، ایماني او ټولنیزه دنده او وجیبه ده. الله پاک دې زموږ د ټولنې ټول ښوونکي په پورته ځانګړتیاؤ او صفاتو ښکلي او ښایسته کړي. آمین

ننګرهار ولایتي دفتر کې د جدي...

استاد تر هرکلي وروسته دجدي شپږمه او د روسانو په بې شرمانه تجاوز دغونډې ګډونوالو ته ارزښتناکه وینا وکړه او په روانو حالاتو یې مجاهدین او د هغوي اولادونه خپلو مسؤلیتو ته متوجه کړه.

ورپسې دننګرهار نامتو جهادي شخصیت او په ولسي جرګه کې دننګرهار د خلکو استازي انجنیر عبدالغفار قابل په روانو حالاتو او په پارلمان کې دحزب اسلامي په موقف ګېرې رڼا واچوله.

په یاده غونډه کې ننګرهار دلویو جامع جماعتونو امامانو دننګرهار پوهنتون استادانو محصلینو اوجهادي شخصیتونو برخه اخیستې وه.

د روداتو دجامع جماعت امام مولوي ضیاءالله (حکیمي) دروسانو په یرغل او دکمونستانو په ناځوانمردانه وژنو او دافغان ملت په سرښندنه رڼا واچوله ورپسې دچپرهار ولسوالی دځوانانو ترانې تیم دځوان (همت) په مشرۍ په خوږو اوازونو ښکلې ترانه وویله چې دغونډې دبرخوالو له خوا دنعرېی تکبیر په اوازونو بدرګه شو او په ناستو خلکو کې یې دجهاد او مبارزی ولولې راتازه کړې ددې غونډې بل ویناوال په ولایتي شورای کې دحزب اسلامي استازی داکتر عبدالقهار لودین وه ښاغلي لودین هم په خپل وار دجدي دشپږمې او روسانو په راتګ مفصلې خبرې وکړې ورپسې دننګرهار پوهنتون استاد عبدالهادي عاصم وه چې دروسانو پر راتګ او دحزب اسلامي دمجاهدینو دنظم او انسجام په هکله ګټور معلومات ورکړه پدې غونډه کې دلوګر ولایت جهادي شخصیت اوسپین روبې الحاج مدیر سید رحمان واحدیار د مجاهدینو او په ځانګړی توګه دحزب اسلامي پر تاریخي پړاونو هر اړخیزه وینا وکړه په دې پرتمینه غونډه کې دننګرهار دولایتي شورای غړی مفتي معین شاه حقاني او د ننګرهار پوهنتون علمي مرستیال دکتور دل اقا وقار انجنیر سمیع الله نصرت هم ویناوې وکړې چې دغونډې دبرخوالو دلا زیاتو معلوماتو اوحوصله افزایي سبب شوې غونډه دیو پریکړه لیک په صادرولو او د شیرزاد و ولسوالی د جامع جماعت دامام په دعایه پای ته ورسیده.

سازمان ملل از تصمیم حکومت...

بر اساس قانون اساسی افغانستان، حفظ نماید. بر اساس قانون اساسی افغانستان، حکومت آن کشور مکلف است در پروسهء انتخاب اعضای این کمسیون، نورم های بین المللی، پلورالیزم، شفافیت و تنوع را مد نظر گیرد.

بر اساس ماده هفتم قانون ساختار و وجایب این کمسیون، رییس جمهور افغانستان باید افراد را برای عضویت در این کمسیون برگزیند که در بخش مربوطه تحصیلات داشته و با تجربه باشند. این افراد باید بی طرف، مستقل و متعهد به قوانین حقوق بشر باشند.

قانون افغانستان در هم آهنگی با اصول مندرج در کنوانسیون حقوق بشر پاریس، تهیه شده است که از رهبری افغانستان می خواهد اعضای این کمسیون به شکل شفاف انتخاب گردد، مشوره های در زمینه صورت گیرد و هم فرصت این کار به تعداد زیاد مردم از قشر وسیع جامعه، میسر گردد.

بر اساس اعلامیه یوناما، ملل متحد و جامعه بین المللی از یک انتخاب همه جانبه و مخلصانه در این پروسه حمایت می کند.

یوناما می گوید: این موضوع به رییس جمهور افغانستان اجازه خواهد داد تا افراد مناسب را برای این کمسیون انتخاب نماید که منعکس کننده تنوع قومی، زبانی، مذهبی، سمتی و جنسیتی باشد.

بر اساس اعلامیه یوناما، ملل متحد و جامعه بین المللی آماده است در پروسه انتخاب اعضای کمسیون حقوق بشر، به رهبری افغان ها سهیم بوده و از آن حمایت کند.

اما تحلیلگران درین مورد نگران اند که مانند دوره قبلی که خوش باوری های اخضر ابراهیمی نماینده سازمان ملل متحد در افغانستان کمیسیون حقوق بشر را لانه ای برای مائویست های متعصب و دشمنان مجاهدین ساخته بود که صدها و هزاران واقعه نقض حقوق بشر که وجدان جهانی را می لرزاند بی خبری نشان داد و در مورد آن بی تبصره باقی می ماند ولی از هفتم ثور ۱۳۵۷ بجای آنکه قتل عام های تره کی، حفیظ الله امین، ببرک کارمل و داکتر نجیب الله و جنایات روس ها مورد ارزیابی قرار دهد از عکس العمل مجاهدین در مقابله با آن نظام های جنایتکار بر نادرات نقض حقوق بشر موشگافی می کرد. بار دیگر چهره های مجهول در آن جا داده شوند که همان راه گذشته را تعقیب نمایند. که نه بیطرفی باشد و نه استقلال و نه هم شفافیت.

ملا عمر پاکستان را ترک ...

پاکسازی عناصر پاکستانی از داخل گروه طالبان، تعدادی از سران طالبان را سلب اعتماد و از عضویت طالبان برکنار کرد که این می تواند تحولی بزرگ در درون طالبان به شمار رود.

مژده می گوید: به دنبال این تحولات پاکستانی ها در پی آن هستند تا جانشینی برای ملاعمر تعیین کنند و برای کشتن و یا دستگیری وی نیز تلاش های را انجام داده اند اما تاکنون موفق نشده اند.

مژده افزود: پاکستان همچنین در تلاش است تا گروهی دیگر را ضد امریکا و در رقابت با ملاعمر به وجود آورد که رهبری آن را "ملا آغا جان معتصم" به عهده خواهد داشت که یکی از نزدیکان سیاسی ملاعمر در گذشته بود و در این اواخر از صفوف طالبان رانده شد.

وی گفت: اکنون این کودتا) تقسیم طالبان به شاخه و تعیین جانشین برای ملاعمر(از سوی پاکستان به شکل جدی با کمک دولت افغانستان در دست است به همین جهت ملاعمر به جز مذاکره با امریکا چارهای برای خود ندید و به همه هواداران خود دستور داد تا به قطر سفر کنند.

به نظر وحید مژده، طالبان در دولت کنونی شریک نخواهند شد بلکه پیشنهاد این گروه برای تغییر دولت افغانستان است، زیرا دولت فعلی نه بر اساس خواسته و طالبان تشکیل شده است و نه هم بر اساس تقاضای امریکا

مژده افزود: در تماسی که با برخی از مقامات طالبان داشتم آنها گفتند که سران طالبان بیم دارند که در صورت ارائه نظر در مورد نمایندگی سیاسی طالبان در قطر و روند مذاکره توسط پاکستان دستگیر خواهند شد به همین دلیل سیاست سکوت را اختیار کرده اند.

وی افزود: طالبانی که در سال‌های اخیر تحت حمایت دولت افغانستان بودند، با گشایش نمایندگی سیاسی طالبان در قطر موافق هستند اما "عبدالسلام ضعیف" سفیر سابق طالبان در اسلام آباد خواهان افتتاح این دفتر در عربستان و یا ترکیه بود.

طالبان څکه له امریکا سره پر ...

هغه زیاته کړې وه: "د افغانستان حکومت د یو اصل په توګه په یو اسلامی هېواد کی د قطر په شمول د طالبانو لپاره د یوه ادرس د جوړولو ملاتړ کوي."

دا چې وسله وال طالبان ولې له امریکا سره د خبرو اترو او د قطر د دفتر په اړه رسمي غبرګون نه ښیي، نه یې ردوي او نه یې تاییدوي؟ په دې اړه د سیاسي چارو پوهان په دې اند دي، چې دا خبرې حقیقت لري، خو د طالبان د غبرګون نه ښودلو په اړه بېلابېل نظرونه لري.

د سیاسي کارپوه محمدحسن حقیار پژواک اژانس ته و ویل، چې د امریکا او وسله والو طالبانو تر منځ اختلاف ډېر زور دی او تر څو چې د دواړو خواوو تر منځ د باور فضا رامنځته کېږي، وخت ته اړتیا شته.

د هغه په وینا، وسله وال طالبان څکه تر اوسه غبرګون نه ښيي؛ چې که د خبرو اترو پروسه له ناکامی سره مخ شي، دوی به خپل ملاتړي له ځان څخه ناراضه کړي.

نوموړي و ویل، تر هغه چې د سولې خبرې اترې یو حتمي پړاو ته نه وې رسېدلې، وسله وال طالبان رسمي غبرګون نه شي څرګندولای.

دغه راز د سیاسي چارو شنونکی فضل الرحمن اوریا هم وایي، تر څو چې د سولې پروسه یوه باوري پړاو ته نه وي رسېدلې، وسله وال به په دې اړه هېڅ غبرګون ونه ښیي.

د ده په خبره، که وسله وال طالبان سر له اوسه په دې اړه د رضایت دریځ څرګند کړي، د دوی پر جګړه ییزو فعالیتونو به ډېر زور اغېز وکړي او سنګرونه به یې کمزوري شي.

اوریا زیاته کړه: "طالبان غواړي، چې پر یو وخت جګړه او ډیپلوماسي دواړه پر مخ بوځي، دغه مهال طالبان له امریکا سره پر خبرو رضا دي، خو د دې خبرو پایلې به ډېر وخت ونیسي."

د نوموړي په باور، وسله وال طالبان دغه مهال له خپل قوت سره یو ځای خبرې کوي او که د باور فضا رامنځته شوه، نو یو لنډمهاله اوربند به هم اعلان شي.

خو شنونکی وحید مژده بیا وایي، چې وسله وال طالبان د پاکستان له وېرې نه غواړي، خپل غبرګون وښیي.

د هغه په وینا، د وسله والو طالبانو او د پاکستان د حکومت تر منځ په دې وروستیو کې ډېر زور اختلاف رامنځته شوی او طالبان هڅه کوي، چې ډېر ژر له امریکا سره یوې موافقې ته ورسېږي.

نوموړي زیاته کړه: "په دې نږدې وختونو کې د پاکستان استخباراتو غوښتل، چې د طالبانو په منځ کې کودتا رامنځته کړي او ملا محمدعمر له صحنې وباسي، خو له ناکامی سره مخ شول."

مژده وایي، چې ډېر لوی بدلون به په دې نږدې وختونو کې رامنځته شي او وسله وال طالبان به ډېر ژر له امریکا سره یوې مثبتې پایلې ته ورسېږي.

د وسله والو طالبانو له مطبوعاتي دفتر او ویاندویانو سره په دې اړه څو څو ځلې اړیکه نیول شوې او نظر یې غوښتل شوی، خو په اړه یې ښکاره رسمي غبرګون نه دی ښودلی.

طالب ویاند ذبیح الله مجاهد په دې اړه پژواک ته د یوه ایمېل په ځواب کې لیکلي وو: "له مسوولینو سره مې اړیکه نیولې، خو تر اوسه ما ته په دې اړه هېڅ معلومات هم نه دې را رسېدلي، که معلومات راته ورسېدل حتماً به یې له تاسو سره شریک کړم."

د عینک د مسو کان استخراج...

شوی، په نړۍ کې د مسو له لویو کانونو څخه شمېرل کېږي او ټاکل شوې ده، چې یاده شوې کمپنۍ په دې کان کې ۲،۸ میلیارده امریکایي ډالر پانګونه وکړي.

د افغانستان د کانونو وزیر وایي، چې یادې شوې کمپنۍ تر اوسه د مسو کان د دې پروژې پر بنسټیزو چارو شاوخوا ۳۰۰ میلیونه امریکایي ډالره پانګونه کړې او اکتشافي کارونه یې بشپړ کړي دي.

د سرچینې د څرګندونو له مخې، په ۱۳۹۲ کال کې به د دې کان د مسو استخراج پیل شي؛ خو په ۱۳۹۳ کال کې به دغه مس په هېواد کې تر پروسس وروسته سوداګرۍ ته چمتو شي.

د ده په وینا، لومړی به د دې کان د مسو د تولید کچه ټیټه وي؛ خو په ۱۳۹۵ کال به یې د تولید کچه وروستي حد (۲۵۰زره ټنو) ته ورسېږي او ورسره به افغانستان وکولای شي، چې د خپلې اړتیا د پوره کېدو تر څنګ د یو میلیارد ډالرو په ارزښت مس صادر کړي.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، دا مهال په نړیوال بازار کې د یو ټن خالصو مسو بیه په منځنۍ ډول ۸زره امریکایي ډالره ده.

د افغانستان د مرکزي احصاییې اداري د معلوماتو له مخې، افغانستان په ۱۳۸۹ کال کې د ۳۸۸ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت صادرات لرل، چې ډېری یې غالي او مېوه ده.

د شهراني د څرګندونو له مخې، افغانستان به په کال کې د عینکو د مسو کان له تولید څخه تر ۳۰۰ میلیونه امریکایي ډالره عواید ولري.

د هغه په وینا، له دې پروژې څخه به د افغانستان حکومت دوه ډوله عاید ترلاسه کوي، چې یو یې د پروژې له ګټې څخه ۲۰ سلنه مالیه او بل یې له تولیداتو څخه د حکومت ځانګړی حق الامتیاز دی.

هغه زیاته کړه: "په دې پروژه کې د افغان حکومت حق الامتیاز د بدلون وړ دی؛ که چېرې په نړیوال بازار کې د یو پاو مسو بیه یو ډالر وي، د افغانستان حق په کې ۳ سلنه دی؛ که چېرې ۲ ډالره وي، د افغانستان حق ۸ سلنه دی او که چېرې د یو پاو مسو بیه ۳ ډالره وي، د افغانستان حق الامتیاز به ۱۹،۵ سلنه وي."

ده وویل چې له دې پروژې سره به د یادو شویو عوایدو تر څنګ، د هېواد ترانسپورټي سکتور هم پیاوړی شي.

د هغه د څرګندونو له مخې، د دې پروژې تولیدات به په لومړي سر کې د موټرو له لارې او بیا به د اوسپنې پټلی له لارې ولېږدول شي، چې د دې لپاره بنسټیزو کارونو ته اړتیا ده.

د شهراني په وینا، په همدې موخه (ام سي سي) شرکت اړ دی چې اړینې اسانتیاوې برابرې کړي.

د ده په وینا، دغه شرکت له کابل څخه تر تورخم بندر او له کابل څخه تر بامیان او بیا تر حیرتان بندر پورې د اوسپنې پټلی تخنیکي څېړنې پیل کړې دي.

د هغه په خبره، د عینکو د مسو پروژې چارې له ترون سره سمې پر مخ ځي؛ خو کار یې به سیمه کې د شته چاودېدونکي توکو له منځه وړو او هلته د لرغونو اثارو شتون ټکنی کړی دی.

د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د روان کال د تلې میاشتې د معلوماتو له مخې، د عینک د مسو کان په اړوند سیمه کې له ۱۳۸۸ کال راهیسې ۱۸۴ لرغوني اثار ترلاسه شوي او دا لړۍ روانه ده.

د سرچینې په وینا، په دې اثارو کې له تیرې جوړې شوې مجسمې، خټین لوښي، مرۍ، د مجسمو ټوټې او د سرو زرو سکې شاملې دي.

د کانونو وزارت چارواکو د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې د (هرات شیدا) او د (سرپل بلخاب) په نوم دوه نور د مسو کانونه هم شتون لري.

د شهراني په وینا، لومړنیو څېړنو ښودلې چې د سرپل د بلخاب د مسو کان د عینک د مسو له کان څخه څو برابره ستر دی.

یوې سروې ښودلې، چې د افغانستان په دېرش سلنه خاوره کې تر درې ترلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت بېلابېل کانونه شتون لري.

روزنامهٔ دیلی تلگراف از اتحاد ...

ابویحیي الليبي، قوماندان بلندپایه القاعده به گفته یکي از شورشیان حاضر در این نشست‌ها به شورشیان پاکستان در نشستي در تاریخ ۱۱ دسمبر گفته است: براي رضاي خدا همه اختلافات خود را فراموش کنید و مبارزاني را به ما بدهید تا جنگ علیه امریکا را در افغانستان تقویت کنیم.

شورشیان پاکستان از مدتها پیش در خصوص اینکه تمرکز مبارزات خود را بر کجا قرار دهند اختلاف داشتند.

گروه شورشی طالبان پاکستان تمرکز خود را بر سرنگون کردن دولت این کشور قرار داده اما تعدادي از شورشیان خود را به افغانستان اعزام کرده است.

دیگر گروه هاي شورشی پاکستان نیز که در مناطق قبایلی این کشور مستقر هستند تقریبا تمرکز حملات خود را بر نیروهاي خارجي در افغانستان قرار داده‌اند.

طالبان پاکستان به عنوان یک سازمان حمایتي از شورشیان طالبان در افغانستان در سال ۲۰۰۷ به وجود آمد تا نماینده حدود ۴۰ گروه شورشی کوچک باشد.

این گروه هم اکنون به خاطر درگیري‌ها بر سر مقام رهبري دچار اختلاف شده و به بیش از ۱۰۰ دسته کوچکتر تقسیم شده است.

احسان الله احسان، سخنگوي طالبان پاکستان به خبرگزاري اسوشیتدپرس گفت: حکیم الله محسود، رئیس طالبان پاکستان در این دو نشست که یکي از آنها در تاریخ ونومبر در شهر "وانا" شهر اصلي منطقه وزیرستان جنوبي و دیگري به تاریخ و دسمبر در منطقه "داتاخل" وزیرستان شمالي برگزار شده اند، شرکت داشته است.

چهار قوماندان بلند پایه پاکستاني و همچنین سراج الدین حقاني توافق کردند تا شورایي را به منظور حل اختلافات تشکیل دهند.

در دو روز گذشته اطلاعیه هایي در منطقه وزیرستان شمالي پاکستان انتشار پیدا کرده و ضمن اعلام خبر تشکیل این کمیته پنج عضوي اظهار داشته که این کمیته طي رایزني با "امارت اسلامي افغانستان" – نامي که طالبان به کشور افغانستان مي دهد – تشکیل شده است.

در این اطلاعیه از شورشیان پاکستاني خواسته شده تا با یکدیگر اقدامات خود را هماهنگ کنند و از کشتارها و اختطاف هاي غیر قانوني براي دریافت پول اجتناب کنند و اگر هر کدام از جنگجویان در یک جرم و یا یک قتل توجیه نشده دست داشته باشد باید به کمیته پاسخگو باشد و مجازات اسلامي براي وي تطبیق شود.

اللیبي در این نشست از شورشیان پاکستان خواسته تا براي ماه مارچ مبارزان بیشتري را در اختیار شورشیان افغان قرار دهد. این ماه مصادف است با شروع فصل بهار و افزایش حملات شورشیان در این فصل.

احسان الله احسان، سخنگوس تحریک طالبان پاکستان نیز اظهار داشت: شورشیان اگر چه به توافق رسیده‌اند این بدین معني نیست که آنها به جنگ خود با دولت پاکستان خاتمه مي‌دهند

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت (اونیزه)
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

ډیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com